شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه



## حمایت صنعت داخلی گام بزرگ به سوی پیشرفت اقتصادی کشور

۱-برای رشد و توسعه سکتور صنعتی،مالیه ربعوار انتفاعی از (٤٪) به (۲٪)کاهش یافته
حمایت از صنعت، زراعت و تجارت می تواند زمینه را برای خود کفایی اقتصادی مهیا کند
۲- به منظور حمایت از رشد صنعت، ( ٧٪ ) مالیه قرار دادی مو ضوعی برای سکتور های زراعتی، صنعتی و تجارتی معاف گردید.

چهارشنبه |د ذولقعده الحرام ۴-۱٤٤٤ / د غبرګولی ۳-۱٤۰۲/ د مي ۲۴-۲۰۲۳/ لومړی کال / ۵۰ ګڼه/ ٤ مخیز


# له هیواد څخه د غنمو د صادراتو په هکله د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست خبرتیا!



په دې وروستیو کې ځیني ناسم خبرونه خپاره سوي، چي ګواکي له هیواد څخه غنم په قاچاقي ډول بهر ته صادرېږي. ماليې وزارت دغه اوازي ناسمي بولي او په کلکو ټکو یې ردوي. د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي ریاست یو ځل بیا په پوره ډاډ سره یادونه کوي، چي د هیواد د ټولو ګمرکونو له لاري بهر ته په قاچاقي او غیر قانوني ډول د غنمو صادرول په کلکه منعه دي او دغه چاره جرم ګڼل کېږي. د ماليې وزارت د هدایت په اساس په ټولو ګمرکونو کي د قاچاقي توکو د مخنیوي کلک تدابیر نیول سوي دي او هیڅ چاته اجازه نه ورکول کیږي؛ تر څو په قاچاقي او غیر قانوني ډول غنم له هیواد څخه بهر صادر کړي. د ماليې وزارت د ګمرکونو او بندرونو ویښ او زړور منسوبین شپه او ورځ د هیواد په ټولو ګمرکونو کي په دقیق ډول د ټولو ممنوعه توکو په صادرولو او واردولو باندي کلکه څارنه لري او هیڅ چاته اجازه نه ورکوي، تر څو په غیر قانوني ډول ممنوعه توکي وارد او یا له هیواد څخه بهر کړي. که چیري کوم څوك په ګمرکونو کي، بهر ته د غنمو د قاچاق په تړاو کره اسناد او یا د کوم قاچاقي باندې په تړاو معلومات ولري؛ نو کولای سي د لاندي برېښنالیك او یا ټلیفون شمېرې باندي اړیکه ونیسي، تر څو د ورته غیري قانوني کړنو مخه په بشپړ ډول ونیول سي.

ټلیفون شماره: ۲۲۱

ایمیل ادرس: Callcenter.customs@mof.gov.af

## رهبری ریاست عمومی عواید وزارت مالیه با معین اداری، مالی و هماهنگی وزارت اقتصاد دیدار نمود

معراج محمد معراج معاون عملیاتی ریاست عمومی عواید وزارت مالیه در حضورداشت امان الله امین رئیس عواید غیرمالیاتی، نداء محمد صدیقی رئیس خدمات حقوقی عواید و محمد جلال احمدزی رئیس سیستم عواید با مولوی محمد عالم جمیل معین اداری و هماهنگی، و مفتی عبدالسلام اشرفی رئیس انسجام مؤسسات غیردولتی (N.G.O) و میر شیر احمد فضلی رئیس اداری و مالی وزارت اقتصاد غرض بهبود عواید، ارتقای کیفیت اسناد بهادار و اتصال سیستم های این ادارات دیدار نمودند.

در این نشست روی اتصال سیستم عواید وزارت مالیه (سیگتاس) با سیستم وزارت اقتصاد، ارتقای کیفیت جوازهای فعالیت مؤسسات غیردولتی، ترتیب و تطبیق پروپوزل طرح افزایش عواید وزارت اقتصاد، مطالعه ساحات ضیاع عواید این وزارت و معرفی تیم های تخنیکی جانبین در راستای دستیابی به اهداف متوقعه بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

## د بودیجې د اجرا، تخصیصاتو (مالي پلان) او (م ١٦) په تړاو د ۲۱ باب، عادي بودیجې لارښود ورکشاپ ترسره سو

د ملي بودجې لوی ریاست د ماليې وزارت په خبر هال کي د بودیجې د ثبت او اجرا، تخصیصاتو (مالي پلان) او (م ١٦) په تړاو د ۲۱ باب، عادي بودیجې تر عنوان لاندي د افغانستان اسلامي امارت د وزارتونو او خپلواکو ادارو مالي او بودیجې برخې مسئولینو ته لارښود ورکشاپ پیل کړ. د پروګرام په پیل کي د ملي بودجې د پلان او ریفورم رئیس پوهنمل غلام عمر عبدالله د عادي بودیجې په ځینو فصلونو کي د نویو بدلونونو او د معاشاتو د فصلونو په ۲۱م باب کي د پروژې رامنځ ته کولو، اسانتیاوو برابرۍ او د معاشاتو د اجرا لپاره د ټولو فصلونو د ثبتولو او همدارنګه د کره راپور ورکوني او د معاشونو د لګښتونو د کنټرول په اړه خبري وکړې او ګډونوالو ته یې د همدغه نوي ریفورم د ارزښت په تړاو بشپړ معلومات وړاندي کړل. ورپسې هغه نوي فورمې او کوډونه چي د ملي بودجې او د خزاینو لویو ریاستونو په سیستمونو کي رامنځته سوي دي، د ملي بودجې د اجرا برخي کارپوه محترم فردین احمدي او د خزاینو لوی ریاست د افمیس سیستم د پراختیا مسئول قاري ریاض احمد له لوري تشریح سول. د پروګرام په پای کې د ملي بودجې او خزاینو لویو ریاستونو د مسئولینو له خوا د ګډونوالو پوښتنو ته ډاډمن ځوابونه ورکړل سول.



## سرمقاله



### دیدگاه استراتیژیک رهبری وزارت مالیه در مورد شرکت های دولتی

شرکت های دولتی امروز نقش پررنگی در مناسبات سیاسی اقتصادی کشورها بازی می کنند و از اهمیت درخور توجهی برخوردارند، دیدگاه های کلی در مورد شرکت ها اینست که بایستی سود محوری و کسب منفعت را منحیث اولویت اساسی خویش مورد مداقه قرار دهند و از طریق آن بتوانند خدمات عمومی را ارائه نمایند. نظر به اهمیت و اهداف استراتیژیکی که شرکت های دولتی دارند، رهبری وزارت مالیه به خصوص ریاست عمومی شرکت های دولتی با رویکرد حمایتی از شرکت ها، ارزیابی دقیق از وضعیت و شناسائی فرصت ها و ظرفیت های موجود، پالیسی های حمایوی و مؤثر را روی دست گرفته است تا شرکت ها را از وضعیت رکود خارج نموده و به عنوان یکی از منابع اصلی تأمین بودجه دولت و ارائه خدمات عمومی، زمینه را برای اشتغال زائی و رشد پایدار اقتصادی کشور مساعد سازند. برداشت عمومی انست که فلسفه وجودی شرکت های دولتی راکسب سود و درآمد تشکیل می دهد و بر مبنای محور قرار دادن سود عملی می کنند، گرچه این برداشت بهره ای از حقیقت داشته و بخشی از ماهیت وجودی آنها را تشکیل می دهد اما در کنار آن شرکت دولتی دارای یک وظیفه اساسی دیگر نیز می باشند و آن عبارت از ارائه و تأمین خدمات عمومی می باشد، در واقع شرکت های دولتی با همین کارکرد دوگانه است که می تواند زمینه و بستر مساعد را در راستای تحقق اهداف، نیازها و انگیزه های اقتصادی برای دولت و مردم فراهم نماید. با توجه به کارگر دوگانه شرکت های دولتی، رهبری دولت با دید استراتیژیک به شرکت ها نگاه نموده و برمبنای آن استراتیژی و پالیسی های را مد نظر دارد تا شرکت های دولتی را در کنار سائر منابع عوایدی، به یک چشمه جدید عوایدی برای افزایش درامد ملی و تامین خدمات عمومی مبدل نمایند کما اینکه شاهد استیم بعد از تحولات اخیر در کشور رهبری وزارت مالیه به خصوص شرکت های دولتی در اثر سعی و تلاش های خویش یك سری برنامه ها و اقدامات مشخص را روی دست گرفته است که از جمله طرح تغییر مواد قانون برای ایجاد تسهیلات بیشتر جهت گسترش فعالیت های اساسی شرکت ها، طرح و تدوین نقشه راه قبل از سرمایه گذاری در شرکت های دولتی و طرح و عملی نمودن طرح های تجارتی در شرکت های دولتی است. خروجی اقدامات مذکور را می توان در بازسازی و آغاز فعالیت جدید شرکت های دولتی و از نو فعال کردن ۱۲ شرکت غیر فعال نام برد. تلاش ها بر اینست تا شرکت ها در کنار دیگر چشمه های عایداتی بخش اعظم تامین بودجه سالانه کشور را به خود اختصاص دهند و بار اصلی ارائه خدمات عمومی را بر عهده گیرند، هر نوع غفلت و سهل انگاری در این قسمت منجر به ضرر های جبران ناپذیری بر پیکر اقتصاد نوپای کشور وارد خواهد کرد. ریاست عمومی شرکت های دولتی به عنوان دارالانشای هیئت نظارت شرکت های دولتی بهبود و اصلاح مدیریتی شرکت های دولتی را یکی از اولویت های اساسی خویش تعیین نموده و برای دست یابی به آن کار و تلاش می نماید.

باالحترام

اداره



د ګمرکونو لوی رئیس له یو شمېر سوداګرو او د صنعتي فابریکو له استازو سره وکتل

م ۲




د ګمرکونو لوی رئیس د خوست او پکتیا ولایتونو له چارواکو او یو شمېر سوداګرو سره په جلا جلا ډول وکتل

م ۲



د هرات ولایت مستوفیت څلور لارې دولتي د تیلو ټانک پرانیستنه وسوه

م ۲



د تورخم په سرحدي ګمرک کي د شپږ ټنه لیتیم او ابرک قیمتي ډېرو له قاچاق څخه مخنیوی وسو

م ۳



مقدار زیادی موادنفجره در گمرک تورخم کشف و ضبط گردید

م ۳



د ماليې وزات د عوایدو لوی ریاست رهبري او مسؤلینو د کابل نړیوال نندارتون څخه لیدنه وکړه

م ۲

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

## د عوایدو د حقوقي خدمتونو رئیس د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره ولیدل

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو رئیس ندا محمد صدیقي، د هیواد د ټولو ولایتونو د ټرانسپورټي شرکتونو له استازو سره د عوایدو لوی ریاست د مقام په کاري دفتر کي ولیدل.

د ټرانسپورټي شرکتونو استازو د ټرانسپورټي مالیاتو په برخه کي خپلي ستونزي، د دغه ریاست له مسؤلینو سره شریکي کړې او د عوایدو لوی ریاست له رهبری څخه ئې وغوښتل، چي شته ستونزي ئې حل او د عوایدو د راټولولو او د لیږد وسیلو (موټرونو) د تخنیکي معایناتو په برخه کي اسانتیاوو ورته رامنځته کړي.

د ټرانسپورټي شرکتونو استازو وړاندیز وکړ، چي د لیږد وسیلو(موټرونو) جواز سیر دي ورته د موټرونو له معاینې سره سم ورکړل سي او د موټرونو د ماډل پر بنسټ دي ورڅخه مالیه واخیستل سي.

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو رئیس ښاغلي نداء محمد صدیقي په خپلو خبرو کي د ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته، د قانون له لاري د موجوده ستونزو د حل په برخه کي د همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته ئې کړه، چي د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست سره د مالیه ورکوونکو حقوق خوندي دي او هڅه کوي، چي د مالیاتو په برخه کي مالیه ورکوونکو ته لا اسانتیاوي رامنځته کړي.

همدا شان د یاد ریاست د مسؤلینو له لوري د ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته ډاډ ورکړل سو، چي د روښتیا رامنځته کېدو په موخه د عوایدو لوی ریاست له مالیه ورکوونکو څخه مالیه په فزیکي ډول نه؛ بلکي د سیستم له لاري راټولیږي.

د یادوني وړ ده، چي لږه موده مخکي د مشرتابه عالي مقام له لوري مالیه ورکوونکو ته ګڼ شمیر اسانتیاوي او معافیتونه رامنځته سول.

## د ګمرکونو لوی ریاست د ۱۴۰۲ مالي کال څلورمه اداري ناسته تر سره سوه

د ګمرکونو لوی ریاست اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي جوړه سوه.

په دې ناسته کي د ګمرکونو تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمیر امرینو ګډون کړی وو.

له اجنداء سره سم په دې ناسته کي د سوداګریزو توکو د صادراتو، وارداتو او ترانزیټ په برخو کي د سوداګرو د شته ستونزو او حل لارو، د ګمرکونو لوی ریاست د ورځنیو اړوندو چارو د لا ښه والي، د ابو نصر فراهي په ګمرک کي د سوداګریزو شرکتونو د یوزرونو (Users) د ستونزو په حل، او یو شمیر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه، هر اړخیزي خبري وسوې او په اړه یې لازمي پریکړي ونیول سوې.

## د ګمرکونو لوی رئیس له یو شمیر سوداګرو او د صنعتي فابریکو له استازو سره وکتل



د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید، د بطریو د واردونکو شرکتونو او د بطریو سُربو تولیدونکو فابریکو له استازو سره، د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کي وکتل.

په دې ناسته کي د سوداګرۍ او پانګوني خوني مرستیال له افغانستان څخه د صادراتي سُربو د ګمرکي قیمت او افغانستان ته د وارداتي بطریو د ګمرکي تعرفې او قیمت په اړه د سوداګرو او صنعتکارانو غوښتني د ګمرکونو له لوی رئیس سره شریکي کړې.

د ګمرکونو لوی رئیس د صادراتي سُربو د ګمرکي قیمت په برخه کي د سوداګرو غوښتنه ومنله او د وارداتي بطریو د ګمرکي تعرفې په اړه یې وویل، چي واردونکي شرکتونه او د بطریو تولیدونکي فابریکې دي، د سوداګرۍ او پانګوني او د صنعت او کانونو خونو له لاري د تعرفې د کموالي یا لوړوالي په اړه د ګمرکونو لوی ریاست ته عریضه وکړي او د ګمرکونو لوی ریاست به یاده موضوع د تعرفې کمېټې ته وړاندي کړي.

## د هرات ولایت مستوفیت څلور لاري دولتي د تېلو ټانک پرانیستنه وسوه

د مالیې وزارت اړوند د دولتي شرکتونو د استازو، افغانستان د نفت او ګازو ریاست د مشرانو، د لرغوني هرات ولایت لوړ پوړو چارواکو او سیمه ییز مخورو او مسؤلینو په ګډون د هرات ولایت مستوفیت څلور لاري دولتي د تیلو ټانک پرانیستل سو.

د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت په هیواد کي (۱۰۸) د تېلو ټانک سټېشنونه لري، چي ډېری یې څو لسیزي وړاندي جوړ شوي او د وخت له معیارونو سره سمون نه خوري، چي ځینې ئې له تخنیکي ستونزو سره هم مخامخ دي او بیا رغوني ته اړتیا لري.



د افغانستان اسلامي امارت په بریا سره د نفتو او ګازو دولتي شرکت د بنسټیزو فعالیتونو د پیل او د خپلو ملکیتونو د بیا احیا په موخه د خپلو نفتي ټانګونو د بیا رغوني او معیاري کولو پلان په لاره چمتو کړ، چي د شرکت د وړاندیز سوي پلان له مخې د هرات ښار په مستوفیت څلور لاري کي د تېلو ټانک په عصري او معیاري ډول د شرکت له مشخص براندنګ سره ترمیم او په رسمي توګه په یوه لړ مراسمو کي پرانیستل سو.

د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت هوډ لري، چي ژر تر ژره په نورو ولایتونو کي خپل نور پمپ سټیشنونه او بنسټونه ورغوي او د دې شرکت د خدماتو د مرکزونو په توګه هیوادوالو ته د باکیفیته نفتي توکو خدمات وړاندي کړي.

## د ګمرکونو لوی رئیس د خوست او پکتیا ولایتونو له چارواکو او یو شمیر سوداګرو سره په جلا جلا ډول وکتل

د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلی مفتي عبدالمتین سعید، چي په رسمي سفر خوست او پکتیا ولایتونو ته تللی، تېره ورځ ئې د یادو ولایتونو له چارواکو او یو شمیر سوداګرو سره په جلاجلا ډول وکتل.

د ګمرکونو لوی رئیس، د خوست ولایت په مقام کي د یاد ولایت د والي مرستیال ښاغلي مولوي محمد انور دین پرور په شتون کي له یو شمیر سوداګرو سره وکتل. په دې کتنه کي دواړو لوریو د صادراتو او وارداتو، د وزن د کنټرول، لابراتوار او یو شمیر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحثونه تر سره کړه او تر څنګ ئې سوداګرو هم خپلي شته ستونزي د ګمرکونو له لوی رئیس سره شریکي کړې.

د ګمرکونو لوی رئیس دوی ته ډاډ ورکړ، چي شته امکاناتو او اصولو ته په کتو سره به د دوی ستونزو ته رسیدنه وسي.

همداشان ښاغلي سعید پکتیا ولایت ته په خپل سفر کي د یاد ولایت له والي ښاغلي (حاجي دعوت) او یو شمیر سوداګرو سره وکتل.

د سوداګرو په استازیتوب د پکتیا ولایت د سوداګرۍ خوني رئیس ښاغلي انجینر حسیب الله خبري وکړې. نوموړي د ا.ا.ا له مسؤلینو څخه مننه وکړه، چي پکتیا ولایت ته پاملرنه کوي او وروسته ئې د سوداګرو ستونزي له ورغلي پلاوي سره شریکي کړې.

د ګمرکونو لوی رئیس وویل: زموږ هڅه داده، چي د سوداګرۍ د لا پراختیا لپاره په ټولو برخو کي سوداګرو ته لازمي اسانتیاوي برابري کړو. نوموړي له سوداګرو څخه غوښتنه وکړه، چي د بې کیفیته او غیرقانوني توکو له راوړلو څخه ډډه وکړي.





د پکتیا والي هم په خپلو خبرو کي له ورغلي پلاوي څخه مننه وکړه، چي د کارونو د ارزوني او د سوداګرۍ په برخه کي د اسانتیا رامنځته کولو په موخه ئې پکتیا ولایت ته سفر کړی. نوموړي د چارو د لا ښه والي په موخه ورغلي پلاوي ته د هر اړخیزو همکاریو ډاډ ورکړ.

## د مالیې وزات د عوایدو لوی ریاست رهبري او مسؤلینو د کابل نړیوال نندارتون څخه لیدنه وکړه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج شیر محمد مشفق، د یاد ریاست عملیاتي مرستیال معراج محمد معراج، د مالیه ورکونکو رئیس عبدالقیوم نصیر، د حقوقي خدمتونو رئیس ندا محمد صدیقي د مالیې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي رئیس او ویاند احمد ولي حقمل او یو شمیر نورو مسؤلینو د کابل نړیوال نندارتون څخه لیدنه وکړه.

د عوایدو لوی رئیس الحاج شیر محمد مشفق د کابل نړیوال نندارتون د کورنیو تولیداتو د ودې او بازار موندني لپاره یو ستر فرصت وباله او د کورنیو تولیداتو او محصولاتو پرمختګ ئې د ملي اقتصاد د پیاوړتیا او ځانبسیایني لپاره مهم وګڼل.

ښاغلي مشفق او ورسره مسؤلینو د یاد نندارتون له ټولو تولیدي او محصولاتي غرفو څخه لیدنه وکړه، سوداګر، کسبګر او پانګوال ئې وهڅول او ژمنه ئې ورسره وکړه، چي دوی ته به په اړوندو برخو کي د کار کولو او پرمختګ نور فرصتونه او اسانتیاوې برابري کړي او غوښتنه ئې وکړه، تر څو دوی هم د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د لا پرمختګ په برخه کي خپلو هڅو ته په پوره لیوالتیا دوام ورکړي.

د یادوني وړ ده، چي د کورنیو تولیداتو دغه پنځه ورځیني نندارتون کي د (٦٧) بېلابیلو سکټورونو تولیدات په (۴۵۰) غرفو کي د غویي میاشتي له( ۲۱مـي) تر( ۲۵ مـي) نېټې د زرګونو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو پر مخ نندارې ته وړاندي سوي ول.



شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه



# افغانستان سره بهرنۍ پراختيايي او بشري مرستو اغېزي

## موږ له نړیوالو مرستندویانو په ځانگړي توگه بډایه اسلامي هیوادونو څخه غواړو، چي ځورېدلی افغانستان په دې بدو شرایطو کې یوازي پرې نه ږدي!



په افغانستان کي د سیاسي بدلون او د اسلامي امارت په بیا راتگ سره ټولي بهرنۍ پراختیایي مرستي وځنډېدلي، چي له امله ئې په افغانستان کي د پراختیایي پروژو کارونه په ټپه ودرېدل او په پایله کي ئې د هیواد په اقتصادي وضعیت بدي آغېزې وغورځولې او د پراخي بیکارۍ سبب سو. بشري مرستي په بېړنیو او خاصوحالاتو کي د لومړنیو خوراکي توکو او نغدو پیسو په بڼه وېشل کېږي. تر ډېره دا مرستي مقطعي دي، چي د هیواد د اقتصادي پرمختگ او بیکارۍ د کچي په کمولو کي هیڅ ډول آغېزې نه لري او په بحراني او خاصو حالاتوکي تر سره کېږي. په (۲۰۲۱) او (۲۰۲۲) کلونو کي د افغانستان سره د نړیوالي ټولني او مالي نړیوالو بنسټونو لخوا شاوخوا (۲) میلیارډه بشري مرستي د ملگرو ملتونو او نورو غیر دولتي ادارو او بنسټونو له لاري ترسره سوي دي، چي د دغو مرستو یوه غټه برخه د ملگروملتونو او نورو غیر دولتي ادارو او بنسټونو په اداري او نورو مصارفو لگول کېږي، چي د بشري مرستو آغېزې تر ډېره کموي. که چیري دغه مرستي د افغانستان د ملي بودیجې له لاري تر سره سي تر ډېري اغېزناکي تمامېږي. له بل اړخه که چېري د (۱۳۹۹) کال ملي بودیجې سند ته لنډه کتنه وکړو، لیدل کېږي، چي د افغانستان د (۱۳۹۹) هـ ش کال بودیجه (۱۳۹،۲۷۹،۹۵۳،٦۹۱) میلیارډه افغانۍ وه، چي د پام وړ برخه (۲۰۷،۰۸۳،۵۳۹،۹۱۹) میلیارډه افغانۍ د بهرنیو پراختیایي مرستو څخه تمویلېده، چي د دغو مرستو په چوکاټ کي د برېښنا، ترانسپورټ، کرني، پوهني، کارموندني او داسي نورو برخو کي لگول کېدله، چي د افغانستان د آبادۍ او اقتصادي پراختیا تر څنگ، د بیکارۍ د کچي کمولو او د خلکو پر ژوند له اقتصادي اړخه مثبتي پایلي لرلي دي. د بېلگي په توگه له یو شمېر پراختیایي پروژو څخه، چي د بهرنیو پراختیایي مرستو له لاري تمویلېدلې یادونه کوو:

- د کارموندني (اشتغال زایي) پروژه: دغه پروژه د (۱۹۲،۵۰۰،۰۰۰) افغانیو په ارزښت د نړیوال بانک له پراختیایي پروژو څخه وه، چي د سیمي خلکو لپاره ئې لنډمهاله کاري بوختیاوي برابرولې او د بېوزلۍ او بیکارۍ په کمولو کي ئې ښه رول ادا کاوه.
- د پنج آمو سیند پروژه: دغه پروژه د (۳۲۷،٦۰۰،۰۰۰) افغانیو په ارزښت د آسیا پراختیایي بانک د پراختیایي مرستو له لاري تمویلېده، چي خلکوته د کرني او اوبو د تنظیم په برخوکي ئې مرسته کوله.
- د نغلو لمریزي برېښنا د تولید دستگاه پروژه: د (۷،۸۰۰،۰۰۰) په ارزښت پراختیایي پروژه وه، چي د آسیایي پراختیایي بانک لخوا تمویلېده او د برېښنا د تولید له اړخه د پام وړ ستره پروژه وه، چي د خلکو په ژوند ئې مخامخ آغېز درلوده.
- له درې صوف څخه تر یکاولنگ پوري د (۱۸۰) کیلومتره په اوږدوالي سره د سړک جوړولو پروژه وه، دغه پروژه د آسیا پراختیایي بانک لخوا د (۱،۸۹۴،۳۰۱،۰۱۱) افغانیو په ارزښت پرمخ وړل کېده.

پورتنیو موضوعاتو ته په کتو سره، دې نتیجې ته رسېږو، چي پراختیایي بهرنۍ مرستي د بشري مرستو په پرتله له هر اړخه گټوري او اوږد مهالي اقتصادي او ټولنیزي آغېزې لري، چي د هیواد د آبادۍ او پرمختگ تر څنگ د خلکو د هوساینې او ښه ژوند د زمینې برابرولو سبب گرځي. موږ له نړیوالو مرستندویانو په ځانگړې توگه بډایه اسلامي هیوادونو څخه غواړو، چي ځورېدلی افغانستان په دې بدو شرایطو کې یوازي پرې نه ږدي او د دې هیواد د پراختیا په برخه کي مرسته وکړي او یا هم کم تر کمه پخوانۍ پراختیایي پروژې بېرته تمویل کړي. په دې سره به افغانانو ته د کار زمینه هم برابره سي او هم به مخکنۍ نیمگړي پروژې بشپړې سي.

## د تورخم په سرحدي گمرک کي د شپږ ټنه لیتیم او ابرک قیمتي ډبرو له قاچاق څخه مخنیوی وسو





د تورخم گمرک ویښو او ژمنو مسؤلینو په یوې صادراتي محموله کي ٦ ټنه میده سوي د لیتیم او ابرک قیمتي ډبرو له قاچاق کېدو څخه مخنیوی وکړ. یادي قیمتي ډبري چي په ډېر مهارت سره د یو خصوصي شرکت لخوا د شوکاڼي په صادراتي محموله کي ځای پر ځای سوي وې او غوښتل ئې په قاچاقي ډول یې پاکستان هیواد ته ولیږدوي. همداشان په یاد گمرک کي په یوې بلي محموله کي ۴۵ کیلو گرامه انساني ویښتان چي صادرات او واردات ئې ممنوع دي، کشف او ونیول سول.

## مقدار زیادی مواد منفجره در گمرک تورخم کشف و ضبط گردید



منسوبین گمرک تورخم (۳۹) بسته مواد منفجره به نام (بارود حلوایی) به وزن (۴۸۷.٦۵) کیلوگرام را که در یک محموله تجاری اموالی بلتی (مختلف النوع) جاسازی شده بود، کشف و ضبط نمودند. اموال این محموله متعلق به یک شرکت خصوصی بوده که قصد انتقال آن را از پاکستان به افغانستان داشت. با این اتهام راننده محموله و نمایندگان شرکت دستگیر گردیده و برای تحقیقات بیشتر به ارگان های تحقیقاتی مربوطه سپرده شده اند.

## اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد ٦١ قلم مواد خام طباعتی برای مطبعه صکوک

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، پروژه تهیه و تدارک ٦١ قلم مواد خام طباعتی برای مطبعه صکوک و ضرابخانه دارای نمبر قرارداد ۰۰٤-G/۱٤۰۲/MOF را با شرکت طباعتی و بسته بندی بهیر دارنده جواز نمبر D-۷۱۳ به قیمت مجموعی مبلغ ٤۷,٥٤۱,۷۰٥ (چهل و هفت میلیون و پنجصدو چهل و یک هزار و هفتصدو پنج) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری

## اعلانات داوطلبی

### طبخ غذا برای برنامه های آموزشی محصلین و استادان اکادمی ملی عواید و گمرکات

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء (طبخ غذا برای برنامه های آموزشی محصلین و استادان اکادمی ملی عواید و گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه NCS/۱٤۰۲/MOF-۰۰۹ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰۷/ جوزا /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۷/ جوزا /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۱٥۰,۰۰۰ (یک صد و پنجاه هزار) افغانی می باشد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

### عقد قرار داد شرکت نفت و آفچین لمتید با وزارت معادن و پطرولیم

شرکت نفت و آفچین لمتید که قرار داد اکتشاف و تقسیم تولید هایدرو کاربن های حوزه نفتی آمو دریا را با وزارت معادن و پطرولیم به تاریخ ٥ جنوری ۲۰۲۳ عقد نموده و در حال حاضر شرکت مستلزم به انجام امورات اکتشاف و توسعه، تولید و امور ساختمانی میادین نفتی حوزه نفتی آمو دریا میباشد.

عنوان داوطلبی: ارائه خدمات مطالعاتی (سروی) جاذبه زمین (گرانشی) و جیو کیمیکل (ژئوشیمیایی).

نوعیت تدارکات: داوطلبی عام

شماره داوطلبی : ۲۳/SC/۰۰٥

معلومات در مورد داوطلبی:

۱. لایحه تدارکاتی: شرکت در نظر دارد جهت انجام سروی جاذبه زمین و جیو کیمیکل را در حوزه نفتی آمو دریا که در شمال افغانستان موقعیت دارد به منظور شناسایی چشم اندازهای بالقوه در سال ۲۰۲۳ انجام دهد. فاز اول مطالعه ثقلی و ژئوشیمیایی که مساحت ۱۸۱۳ کیلو متر مربع را شامل میشود که بر روی بلاک نفتی بازارخمی و قسمت شمالی بلاک نفتی قشقری است و تراکم نقطه مطالعاتی ۴ نقط مطالعاتی (سروی) ژئوشیمیایی است. آغاز کار سروی ۳۰ یوم بعد از عقد قرارداد مد نظر گرفته شده و مدت تکمیلی این سروی ۹ ماه خواهد بود مدت عقد قرارداد یک سال می باشد.

۲. علاقمندان واجد شرایط این داوطلبی میتوانند قبل از تاریخ ۲۴/می/۲۰۲۳ مبلغ ۱۰۰ دالر امریکایی را جهت دریافت سند کامل ITT پرداخت نمایند.

طریقه پرداخت پول جهت دریافت سند ITT

- در صورت تمایل پرداخت به نقدی لطف نموده به آدرس دفتر افچین که در ذیل ذکر گردیده تشریف بیاورید.

آدرس: خانه نمبر ۲ سرک ۱۲ کارته سه کابل افغانستان

شماره تماس : ۰۷۹٤٥۲۸۲٦۹

- در صورت تمایل به پرداخت غیر نقدی لطف نموده به ایمیل آدرس ذیل تماس حاصل فرماید.

ایمیل : procurement@afgchin.com

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله خُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.a
ټویټر: @ afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)





وزارت مالیه
ریاست ارتباط و آگاهی عامه

PR No: 119 — 1402 -02- 28

**اطلاعیه ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه در رابطه به صادرات گندم از کشور!**

در این اواخر بعضی خبرهای نادرست منتشر شده است که گویا گندم به شکل قاچاق به خارج از کشور صادر می گردد. وزارت مالیه این شایعات را نا درست خوانده و به شدت رد می کند.

وزارت مالیه بار دیگر با اطمینان کامل یاد آوری می کند که صادرات گندم به صورت قاچاق و غیرقانونی از طریق تمامی گمرکات کشور جداً ممنوع می باشد و این عمل جرم پنداشته می شود. بر اساس هدایت وزارت مالیه در تمامی گمرکات کشور تدابیر جدی برای جلوگیری از اموال قاچاقی گرفته شده است و به هیچکس اجازه قاچاق و صادر نمودن غیرقانونی گندم به خارج از کشور داده نمی شود.

منسوبین دلیر و شجاع وزارت مالیه شبانه روز در تمامی گمرکات کشور بر صادرات و واردات اموال ممنوعه نظارت جدی می کنند و به هیچکس اجازه نمی دهد تا چنین اموال را وارد و یا از کشور خارج نمایند.

اگر کسی در گمرکات اسنادی در رابطه به قاچاق گندم به خارج از کشور و یا کدام گروه قاچاقی معلومات داشته باشند؛ می توانند از طریق شماره و ایمیل آدرس ذیل به تماس شوند، تا از همچو فعالیت های غیرقانونی به گونه کامل جلوگیری به عمل آید.

شماره تلیفون: ۲۲۱

ایمیل ادرس: Callcenter.customs@mof.gov.af

afghanistanmof — www.mof.gov.af




# The Ministry of Finance' General Directorate of Customs' notice on export of wheat

Recently, several false reports claiming that wheat being smuggled out of the country have appeared. These rumors are firmly rejected by the Ministry of Finance as untrue. The Ministry of Finance once again mentions with absolute certainty that it is illegal and totally banned to export wheat via any of the country's customs, and this action is regarded a crime. In accordance with the instruction of the Ministry of Finance, sever measures have been taken in all the country's customs to prevent smuggling goods and no one is permitted to smuggle and unlawfully ship wheat overseas.

The brave and heroic personnel of the Ministry of Finance keep an eye on the export and import of items that are forbidden 24 hours a day in all the customs offices and do not allow anyone to import or export such goods out of the country. In order to entirely stop such criminal operations, if someone has any documents in the customs regarding smuggling wheat abroad or any smuggling gang; they may be contacted through the phone number and email address below.

Phone number: 221

Email: callcenter.customs@mof.gov.af






هدایت الله (هدایت)

د اوسپني پټلۍ ملي اداره وايي، چې تېره اونۍ د حیرتان، اقینې او تورغونډۍ اوسپني پټلیو له لارې ۱۰۵ زره او ٤۹۹ متریک ټنه سوداګریز توکي لېږدول شوي دي.

Habibullah Khobib

د امرالمؤمنین حفظه الله د فرمان په اساس چې سوداګرو ته کوم مالیاتي معافیتونه ورکړل سوي دي، که څه هم ظاهرا به په مالیاتي چارو کي کسر رامنځته کوي، خو د یوه نظام او دولت لپاره ډېره زیاته او بنیادي ګټه لري، کوم چي د داسي کارونو په حکمت یوازي حکیمان پوهیږي.

Sediqullah Wafa

د هېواد د اقتصادي غوړېدا او ځانبسیاینې، #یو_بل_ښه_خبر!
د #فراه ولایت، فرارود ولسوالۍ کې د بخش آباد بند به نن شنبه د روان کال د غويي د میاشتې ۳۰مه د اسلامي امارت د لوړپوړو مشرانو په حضور کې د یو لړ پرتمینو مراسمو پر مهال پرانستل شي.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.